# د مدني ټولنې وینا

نعیم ایوب زاده

ښاغلی ولسمشر، اجرائیه رئیس، ښاغلیو او اغلیو!

زما لپاره ستر ویاړ دی چې د هغو زر کسانو په استازیتوب خبرې کوم چې د ژنو کنفرانس د چمتو والي لپاره یې د مدني ټولنې په سرتاسري مشورو کې برخه اخیستې وه.

مونږ د افغانستان د خلکو د هغو پاموړ لاسته راوړنو چې د نړیوالې ټولنې، د دولت د رهبرۍ، د وسله والو ځواکونو د ښځینه او نارینه وو د قربانیو، د مرستندویه ادارو د کارمندانو، ښوونکو، خبریالانو او نورو د سخاوتمندانه ملاتړ په دلیل تر لاسه شوي او څه چې دي تر دې بدتر نه شول، مننه کوو.

مونږ په عین حال کې له شخړو ډکې په یوې فضا کې د باثباته پرمختګ پر وړاندې ستونزې هم ګورو، کله چې امنیتی ستونزې د پرمختګ خنډ کېږي نو دولت او نړیواله ټولنه د امنیت تامین ته لومړیتوب ورکوي څو بشري اړتیاوو ته رسیدنه وشي.

د افغانستان خلکو په وروستیو پارلماني انتخاباتو کې په خپل ګډون سره وښوده چې په راتلونکې باور لري او ورته هیله من دي. د نا امنی د شتو ګواښونو سره سره د ښځینه وو او نارینه وو د ستاینې وړ شمېر ګډون هغه بدګومانې له منځه یووړه چې تېرو درغلیو رامنځته کړې وه.

ښځینه او نارینه افغانانو خپلو هیلو ته رایه ورکړه. پر هغو بدګومانیو بریالي کېدل چې د تېرو درغلیو په نتیجه کې رامنځته شوې وې، د دوی رایه ورکول هغه سرمایه ده چې د افغانستان دولت یې باید درناوی وکړي. دا وار باید له هغو ډېرو مسألو ډډه وشي چې رایه اچوونکې ورسره تر دې وړاندې مخامخ وو.

لوجیستیکي کمښتونه چې په نتیجه کې یې خلک په ساعتونو په اوږدو قطارونو کې منتظر ولا وو څکه چې د رای اچونې د پروسې د اتمام په اړه دروغ راپورونه وررسیدلي وو، د رأی اچولو د پانو ورکېدل، د بایومیټریک بې کاره وسایل، د رأی اچونې مرکزونه چې د کارمندانو د نه راتګ له کبله تر پایه بند وو او تر ټولو مهمه دا چې تصور کېدو چې انتخاباتي بنسټونه سیاسي شوي دي.

که یاد مسایل حل نه شي، د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو او د افغانستان دولت حیثیت او مشروعیت داغداره کولی شي چې په نتیجه کې به په دولتي ادارو او بنسټونو د افغانستان د خلکو باور کم شي. مونږ همدا راز سپارښتنه کوو چې د 2019 کال ولسمشریزې ټاکنې دې له طالبانو سره د مصالحې په خاطر نه وروسته کېږي.

په عین حال کې د فساد کمېدل د دولت مؤثریت او مشروعیت دی خو په لوړو ادارو او نظامي سکټورونو کې د دولت د فساد کمولو ژمنه اوس هم ملموسې نتیجې نه لري.

اکثره خلک چې غواړي کارونه یې په دولتي ادارو کې مخته لاړ شي، د رشوت غوښتنې له توقع سره مخ کېږي چې له بدغه مرغه دا کار په یو معیار بدل شوی دی.

دې کار له نظامه په بهر خلکو، په ځانګړې توګه هغو ښځینه وو ډېره منفي اغېزه کړې چې له دولتي امکاناتو او موقفونو بې برخې دي.

نو په افغانستان کې به د فساد فرهنګ څنګه له منځه لاړ شي چې په پراخ فساد متهم خلک په هېواد کې د رهبرۍ لوړ موقفونه لري؟

فروزان مشعل

مونږ د نړۍ په دې ښکلې او آرامه څنډه کې په دې مجلله کوټه کې راټول شوي یو، خو سخته به وي که د هغې افغانې مور وېره رایاده نه کړو چې نه پوهېږي که زوی یې له کوره ووځي بېرته به ژوندی راستون شي او دا به یې ووینې که نه؛ د هېواد په نارینه او ښځینه ځوانانو هغه فشارونه حس نه کړو چې د بېکارۍ له کبله یې تېروي، په ځانګړې توګه هغه وخت چې د پوهنتون د وخت پورونه یې نه وي ورکړي او یا د خپلې کورنۍ لګښتونه نشي پوره کولی؛ همدا راز که ورځ تر بلې زیاتېدونکو معلولیت لرونکو ته اندیښمن نه شوچې په یوه نامساعده فضا کې ژوند تېروي. د کار برابرول ضروري دي، په ځانګړې توګه په زراعتي او صنعتي سکټورونو کې، څو خلک په خپله خپل ځانونه د فقر له حالته راوباسي.

د ملکیانو او نظامیانو بې ساري بې رحمانه وژنې، له جګړه ځپلو ساحو او وچکالۍ نه د خلکو د تېښتې زیاتوالی، هغه خلک چې نه پوهېږي د ورپسې وخت خواړه به ومومي او که نه، د افغانستان خلک د ژوند په ټولو خواوو کې له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي. خلک هره ورځ د ستونزو په ګاللو سره تېروي، په دې تمه چې ښه ورځ به پرې راشي، خو هر څومره چې مونږ په خپل استقامت کې مشهور یو، انسانان یو او یوه ورځ به مات شو.

په همدې خاطر مونږ د هغې سیاسي حل لارې هرکلی کوو چې په افغانستان کې د تاوتریخوالي د کمښت سبب کېږي. داسې یوې حل لارې ته د رسیدو لپاره ضروري ده چې دولت کړنلارې وسنجوي، په دې پروسه کې د ټولو اړخونو د ګډون درناوی وکړي او د سولې په ټولو مذاکراتو کې ښځې هم شریکې کړي، مذاکرات باید د ښځو د حقوقو په بیه تمام نشي.

سوله د تاوتریخوالي ختمېدو یا د "بېړنۍ حل لارې" په تنګ تعریف کې نه شو ځایولی، ځکه چې هغه سوله به پایښت لرونکې نه وي. د سولې پروسه هغه وخت اوږدمهاله سوله راوستلی شي چې د ټیټې او لوړې سطحې خلکو نظرونه راټول شي او هر اړخیز باور ترلاسه کړای شي.

په همدې خاطر مونږ له ټولو نړیوالو تمویلوونکو غواړو چې د ژوند په ټولو سیاسي او اجتماعي سطحو کې د سولې رامنځته کېدل تمویل کړي.

همدا راز سوله پر عدالت، د قانون پر حاکمیت او په عادلانه توګه د قوانینو پر پلي کېدلو متکي ده لکه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قانون چې له پوره اهمیته برخمن دی. د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قانون د ټولو محاکمو له خوا په برابره توګه نه تطبیقېږي او نتیجه یې دا ده چې د تاوتریخوالي قربانیان د دولت له خوا نه حمایه کېږي. د بېلابېلو ادارو راپورونه لکه د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض او تاوتریخوالي د له منځه وړلو کنوانسیون، د نړیوالي بشري کنوانسیون، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمسیون د داسې جزئیاتو څرګندوی دي چې په هغو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په زرګونو موارد، قتلونه، وهل ډبول، اسید شیندل، کورني او جنسي تاوتریخوالي یاد شوي دي.

نور قوانین، لکه د آزادیو او اطلاعاتو اړوند قانون نه دی پلی شوی او مونږ له دولت او نړیوالو شریکانو غواړو چې د نویو قوانینو تر طرحې وړاندې، د موجوده قوانینو د پلي کولو لپاره پانګونه وکړي. مونږ همدا راز له دولته غواړو چې د قوانینو د تدوین پر وخت، د مشورې اخیستلو له میتوده کار واخلي.

د مدني ټولنې فعالان د هېواد په پرمختګ کې مهم لوبغاړي دي او د دولت او خلکو تر منځ د پیوستون د پل رول لوبوي.

مونږ د دولت د هغو اقداماتو هرکلی کوو چې د مهمو قوانینو په اړه یې د مدني ټولنې له فعالانو سره مشورې کړې دي خو دا مشورې باید منظمې شي او د ولایتي او پلازمېنې کابل حکومتولي په کې ځای شي. څرنګه چې دولت د انجوګانو د قانون د ارزونې په حال کې دی، مونږ د مشورې یوه داسې پروسه غواړو د قانون مسوده مخکې تر دې چې کابینې ته وړاندې کوي له مدني ټولنې سره مشاوره وشي.

د افغانستان د مدني ټولنې د بنسټونو په استازیتوب سره، غواړو له تاسو صمیمانه مننه وکړو چې ۱۷ کاله مو د افغانستان ملاتړ وکړ، حتی ستاسو یو شمېر تر دې هم زیات له مونږ سره وو. مونږ پوهېږو چې د دولت او تمویل کوونکو ملاتړونه حتمي او پای مونډونکي نه دي. په همدې خاطر مونږ ژمن یو چې خپل فعالیتونه او شفافیت هم وڅارو. اوږدمهاله او دوام لرونکي پرمختیایي اهداف باید د دولت، تمویلوونکو او نړیوالې مدني ټولنې د موجوده ګډون د ودې په ترڅ کې تر لاسه کړو.